مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۸ د غويي ۱۵مه | د ۲۰۲۰ د مي خلورمه | ۵۳٤مه ګڼه

هېواد

۴ مخ

## یمن

د یمن ۵۰ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د دغه هېواد ۸ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدغه سکټور څخه لاس ته راځي.



# پر ایراني وحشت غبرګون؛

## بهرنیو چارو وزارت: ولسمشر غني پخپله د ایراني عسکرو د وروستي جنایت څېړنه کوي



۳

د مظلومانو فرعوني ګاونډیان

۲ مخ


بېل ګېټس د کرونا وبا په تړاو مهم سوالونه ځواب کړي دي

۲ مخ

هڅه وکړئ چې ځانګړي اوسی!

۵ مخ

## بزګران: په کندهار کې د ځمکنیو توتانو د حاصلاتو ټولول پیل شوي دي




بزرګران وايي، په هېواد کې د ځمکنیو توتانو د کرلو فرهنګ تر بل هر وخت غوړېدلی او اوس د هېواد په یو شمېر ولایتونو کې دغه توت کرل کېږي، چې ښه حاصل هم ورکوي.
په کندهار کې هم ډېریو بزګرانو د ځمکنیو توتانو کرلو ته مخه کړې او اوس یې د حاصلاتو د ټولولو وخت دی. ثناء الله صیام د کندهار د ارغنداب ولسوالۍ اوسېدونکی او هغه بزګر دی، چې تازه یې د ځمکنیو توتانو د حاصلاتو ټولول پیل کړي دي. دی وايي، چې د کرنې وزارت د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې اوس کروندګر هڅولي چې ځمکني توت وکري او د کرلو مهارت یې هم ورښولی دی. نوموړی یې له حاصلاتو خوښ دی او وايي، چې په بازار کې هم په ښه بیه پلورل کېږي. صیام زیاتوي، د ځمکنیو توتانو هر بوټی هرځل له یوه تر یونیم کیلو ګرامو په پرله پسې ډول تر څلورو کلونو پورې حاصل ورکوي.

## منظورپشتین: پاکستاني حکومت به د پښتنو د وژنې له کبله درنه بیه پرې کړي

د پښتون ژغورنې غورځنګ مشرانو او زرګونو پلویانو چې تېره ورځ د یاد غورځنګ د مشر (عارف وزیر) د جنازې مراسمو ته راټول شوي وو، پاکستاني حکومت د نوموړي پر وژنې تورن کړ. عارف وزیر د پښتون ژغورنې غورځنګ له مخکښو غړو څخه و چې د جمعې په ورځ ناوخته د نامعلومو کسانو له خوا د خپل کور په مخ کې په مرمیو وویشتل شو، چې د ژورو ټپونو له کبله یې په روغتون کې سا ورکړه.
د نوموړي د جنازې مراسم تېره ورځ د زرګونو کسانو لخوا په دیره اسماعیل خان کې ترسره شول، چې پر پښتونخوا سربېره یې په کابل او یوشمېر نورو ولایتونو کې هم غائبانه جنازه وشوه. د پښتون ژغورنې غورځنګ مشرانو د نوموړي د جنازې په مراسمو کې د وینا پر مهال پاکستاني حکومت د پښتنو پر ټولوژنې تورن کړ او خبرداری یې ورکړ چې ریاست ته به د دغو کړنو درنه بیه پرې کړي.
د دغه غورځنګ مشر منظورپشتین وویل، چې پاکستاني ریاست او پنجاب له ډېرې مودې راپه دې خوا د بې ګناه پښتنو وژنو ته دوام ورکړی چې په خبره یې، د دغو کړنو لوړه بیه پرې کړي.
هغه زیاته کړه چې پر دوی د خپلو حقونو د غوښتنو له کبله سخت فشارونه راوستل شوي، خو دوی به هېڅکله هم دغو فشارونو ته تسلیم نه شي. په ورته وخت کې د عارف وزیر وژنې د سیاسیونو او د بشري حقونو د مدافعو بنسټونو غبرګونونه هم راپارولي دي. د ښښنې نړیوال سازمان له پاکستاني حکومت څخه د نوموړي د وژنې په تړاو د جدي پلټنو غوښتنه کړې ده.

## خلک دې د وچې ډوډۍ د وېشلو د پروسې نظارت وکړي



۵ مخ

## وزارت صحت عامه: تجمعات برای گرفتن نان خطر آلوده شدن به ویروس کرونا را افزایش داده است




وزارت صحت عامه هشدار میدهد که گرد آمدن مردم برای گرفتن چند نان در برابر نانوانی‌ها، خطر آلوده شدن آنان را به ویروس کرونا افزایش داده است.
وزارت صحت می گوید که در چند روز اخیر این ویروس با سرعت در میان مردم گسترش یافته است و با سرعت به شیوع اش ادامه می دهد. وحید الله مایار، سخنگوی وزارت صحت عامه، گفت: «پنج قرص نان داده می شود و تجمعات زیاد می شود و از مفاداش کرده زیان اش بیشتر است چون فعلا ویروس در جامعه به شکل بسیار سریعی گردش می کند».
وزارت صحت عامه می گوید که از ۵۰۰ تن در بخش های از پایتخت در چندین روز اخیر نمونه گرفته شده بود که نتایج یک ۱۵٦ تن آنان مثبت شناسایی شده اند.
در همین حال، شماری از شهروندان کشور از نبود یک راه کار مناسب برای توزیع نان انتقاد می کنند و می گویند که این شیوه بیماری کووید-۱۹ را در میان خانواده‌ها افزایش خواهد داد.
محمد بشیر، باشنده کابل گفت: «مردم به خاطر ده دانه نان مریضی را با خود خانه میبرند چون بیکاری است.»
اما شاروالی کابل می گوید که هنگام گرفتن نان مردم باید تدابیر صحی را رعایت کنند.
محمد داوود سلطان زوی، شاروالکابل گفت: «این لست قبل از آن که ما این پروسه را آغاز بکنیم، این لست ساخته شده بود و متاسفانه مثل همه کارهای دیگر زمانی که عجله صورت میگیرد شاید نقایص وجود داشته باشد اما کوشش نهایی صورت می گیرد که این لست تکمیل شود و بهتر شود.»



## دريـــځ

# د مظلومانو فرعوني ګاونډيان

د ايراني آخوندي رژيم وحشي امنيتيانو پنځوس افغان کارګران نيولي، شکنجه کړي يې دي او بيا يې لاس تړلي سيند ته غورځولي دي. له دې ډلې دوولس تنه ژغورل شوي او ۴۸ نور اوبو ډوب کړي دي. په کابل کې چارواکي په دې برخه کې د څېړنو خبره کوي، خو داسې ښکاري چې دا به د نورو جنايتونو د څېړلو په شان وي او يوازې د خلکو غوسې او احساساتو ته به يو لنډمهاله ځواب وي.

د روژې په مبارکه مياشت او په داسې حال کې چې پر ځمکه د کرونا بلا را نازله ده، دغه ډول وحشت يوازې فرعوني نظامونه او اشخاص کولی شي. افغانان او افغانستان په واقعي مانا د فرعونانو او فرعوني وحشي نظامونو په منځ کې را ګېر دي. د پاکستاني استخباراتو او پوځ وحشت خو زموږ د کور کور او کلي کلي کيسه ده او هېڅوک ترې خوندي نه دي پاتې، خو ايراني وحشي آخوندي نظام هم له مظلومو افغانانو سره د فرعونانو په شان چلند کوي. دا سمه ده چې افغانان غريب دي، په جګړه کې دي او ايران ته په ناقانونه ډول د کار لپاره ورځي، خو يو انسان او بيا يو څوک چې د اسلام دعوا کوي، څنګه دومره وحشي کېدلی شي چې دا غريب، بې وزله او مظلوم کارګران لاس تړلي سيند ته وغورځوي!؟ له دې ښکاري چې د دوی د ښه ګاونډيتوب، مسلمانۍ او دوستۍ ټولې ادعاوې دروغ دي. دوی وحشيان او ظالمان دي چې د يوويشتمې پېړۍ پر مظلومو او بې ګناه انسانانو دا ډول ظلمونه کوي. ايراني آخوندي رژيم چې د اسلام ماسک يې اچولی، تل له افغانانو سره همداسې ظلمونه کوي او خپل فرعونيت ثابتوي. دوی نه يوازې له افغانانو سره، بلکې په سوريه، يمن او نورو مظلومو او جنګ ځپلو سيمو کې هم د خپلو فرعوني موخو لپاره همداسې وحشتونه کوي.

د همدغو فرعوني ګاونډيو هېوادونو د شرارت له امله موږ نه يوازې په خپلمنځي جګړه کې يو، بلکې له امريکايي اشغال سره هم مخ يو. زموږ د فرعوني ګاونډيو نظامونو دا نه لومړنی وحشت دی او نه به هم وروستی وحشت وي. دوی به بيا بيا همداسې جنايتونه او وحشتونه وکړي، څو د خپل فرعونيت تنده خړوبه کړي، خو نور بايد موږ د دغه ډول وحشتونو اجازه ور نه کړو. د اوس لپاره بايد همدا وروستی وحشت په جدي ډول تعقيب شي، هر افغان بايد دا جنايت وغندي، د دغه جنايت په اړه خبرې وکړي او ټولو نړيوالو ته د ايراني وحشي امنيتيانو دغه جنايت ورسوي. دا جنايت بايد هېر نه شي او بيا بيا ياد شي او په نړيواله کچه ترې يوه غوغا جوړه شي.

له دغو فرعونانو او فرعوني نظامونو، دوی ته له احتياج او د دوی له وحشت څخه د خلاصون لپاره اصلي او بنسټيزه لاره دا ده چې نور موږ خپلمنځي ستونزې او جګړې پرېږدو او يو بل ته لاس ورکړو. تر هغو چې موږ له يو بل سره په جګړه کې وو، تر هغو چې موږ له يو بل څخه کرکه کوو او تر هغو چې موږ يو بل ته لاس ور نه کړو، نو همداسې به موږ څوک لاس تړلي سيند ته غورځوي او څوک به مو هم په ډله ييز ډول وژني. پکار ده له دې پېښې عبرت واخلو او نور د سولې او يووالي لوري ته ګامونه چټک کړو، څو له دغو شريرو فرعوني ګاونډيو نظامونو خلاص شو.

# کرونا او د نظارت سيستم؛

## لويديځ په بحراني شرايطو کې نړۍ ته د څارنې سيستم په برابرولو کې پاتې راغلی

ليکوال: نېکولاس رايټ
ژباړن: جواد تيموري

د کرونا ويروس چټکې پراختيا په ډېر کم وخت کې په نړۍ لسګونه زره انسانان ووژل، نړيوال اقتصاد يې له ښنو وغورځاوه، د پرمختګ مخه يې ډپ کړه او دغه راز يې د نړۍ د راتلونکې رهبرۍ په اړه هم په ټولنو کې بېلابېلې فرضيې رامنځته کړې دي.

نړۍ په دغه ډول بحراني شرايطو د نظارت ځانګړي او پرمختللي سيستم ته اړتيا لري، چې اوسنی حاکم نړيوال نظام په دې برخه کې ناکام دی. د عامې روغتيا په برخه کې هر ډول اقدامات تل څارنې او نظارت ته اړتيا لري او دغه څه بيا په ځانګړې توګه د کرونا ويروس پر وړاندې د دولتونو له مبارزې په ښه ډول څرګندېږي. چين په ووهان ښار کې د کرونا ويروس له کنټرول وروسته له پرمختللو وسايلو په استفادې اوس په نړيواله کچه د دغه ويروس نظارت او څارنه کوي. دغه هېواد له بېلابېلو لارو چارو څخه په ګټنې د هغو کسانو څارنه کوي چې زيانمنو شويو ځايونو ته تګ راتګ کوي.

په ورته وخت کې د ختيځې اسيا ډېری هېوادونو هم له کووېډ- ۱۹ ناروغۍ سره د مبارزې په پار له خپل ټول نظارتي ځواک څخه ګټه واخيسته. جنوبي کوريا له تړلي مدار ټلويزيون(CCTV) او خلکو ته د ځانګړو کارتونو د ورکړې له لارې او دغه راز ټايوان بيا له پرمختللې او نوې ټکنالوژۍ څخه په استفادې د خپلو خلکو، روغتونونو، درملتونو او روغتيايي مرکزونو څارنه کوي ترڅو پر دغه ويروس د اخته کسانو له حال څخه هره شېبه خبر ترلاسه کړي.

خو لوېديځ او لېبرال ډيموکراټيک هېوادونه بيا د دغه ويروس د مهارولو لپاره د چين پر وسايلو او د کرونا ويروس په کنټرول کې د دغه هېواد پر برياليو لارو چارو فکر کوي چې څه ډول بايد دوی هم ترې ګټه پورته کړي.

چين داسې مهال په کور دننه د بهرنۍ نړۍ د نظارت په هڅه کې دی، چې دغه هېواد له نږدې يوې لسيزې راهيسې له امريکا سره د نړيوال سټېج پر سر په سخته سيالۍ بوخت دی. چين هڅه کوي چې د نړۍ لپاره د سټنډرډونو په ټاکلو او کليدي پرېکړو کې بايد مهمه ونډه ولري.

چين اوسمهال د 5G ټکنالوژۍ او Orwellian سيستم په صادرولو په نړۍ کې د ځان لپاره ځانګړی ځای خپل کړی. کرونا ويروس او د چين چټکه ټکنالوژيکي وده به په راتلونکي کې نړۍ په پوره ډول بدله کړي.

د ختيځې اسيا هېوادونو له وروستيو اقداماتو ښکاري چې له کرونا ويروس سره د مبارزې په پار نړۍ د څارنې او نظارت لپاره يوه پياوړي سيستم ته اړتيا لري. غربي ډيموکراسۍ بايد په دې برخه کې د خلکو د خونديتوب په موخه خپلې لارې چارې واضح کړي. دوی بايد دا واضح کړي چې د لېبرال ارزښتونو له قربانۍ پرته د خپلو وګړو د خونديتوب لپاره کوم ډول موډلونه لري؟

د سپټمبر د يوولسمې له بريدونو وروسته د ډيموکراسۍ او په ځانګړې توګه د امريکا د خصوصي او دولتي نظارتي سيستم په تړاو خلکو ته ګڼې پوښتنې راولاړې شوې دي. دوی غواړي پر دې پوه شي چې نظامونه يې د نظارت او څارنې په پار کوم ځانګړی سيستم لري او کنه؟ دې ته ورته، د کووېډ-۱۹ ناروغۍ يو اوږدمهاله اغېز به په ټوله نړۍ کې د نظارت د ډيجيټلي سيستم بدلون وي. اوسمهال د خلکو د څارنې پرمختللی سيستم د نړۍ له مهمو روغتيايي اړتياوو ګڼل کېږي، چې لاهم په ځينو برخو کې دې مورد ته پام نه دی شوی.

نړۍ اوسمهال له لوړ ګواښ سره مخ ده، که ډيموکراسي د نړۍ لپاره د څارنې او نظارت په پار پرمختللی سيستم رامنځته نه کړي، اقتدار غوښتونکي سيال هېوادونه يې تيار دي چې نړۍ ته په دې برخه کې نوي موډلونه وړاندې کړي.

### د جان سنو تجربه او وژونکې ناروغۍ

له نړيوالو وباوو سره د مبارزې په پار له ډېرې مودې راهيسې نړۍ د انسانانو د کنټرول او نظارت سيستم ته اړتيا لري، ترڅو له دې لارې پر يادو ويروسونو، وباوو او وژونکو بريالۍ شي.

ډاکتر جان سنو د اپيډيميولوژۍ له بنسټ ايښودونکو څخه دی، چې د وبايي او وژونکو ويروسونو د کنټرول او مخنيوي په پار د نظارت سيستم ډېر اړين او ګټور بولي. کولرا چې خطرناکه او وژونکې وبا ده، د لومړي ځل لپاره په ۱۸۳۱ ز کال کې انګليستان ته ورسېده، دې وژونکې ناروغۍ په نړۍ کې په سلګونو زره انسانان ووژل، دغه راز يې په انګليستان کې هم کابو لس زرو کسان له منځه يووړل.

د ۱۸۵۴ ز کال په اګسټ او سپټمبر کې په لندن کې د سوهو په نوم سيمه له يوې وژونکې ناروغۍ سره مخ شوه. دې ناروغۍ په درې ورځو کې د دې سيمې ۱۲۷ کسان ووژل. سنو دې سيمې ته نږدې ژوند کاوه. د سيمې له خلکو سره نږدې اړيکو هغه ته دا فرصت ورکړ چې ياده ناروغي ژر کنټرول کړي. هغه لومړی سيمه په نښه کړه او د قربانيانو له کورنيو سره يې خبرې وکړې. هغه د سيمې تر لنډنظارت او څارنې وروسته ډېر ژر د يادې ناروغۍ اصلي سرچينه پيدا کړه، له سيمه ييزو مشرانو يې وغوښتل چې بايد د اصلي سرچينې په له منځه وړلو کې ورسره مرسته وکړي. سنو د کولرا د له منځه وړلو په پار په ډېر غور سره د نظارت او څارنې له لارې لومړی ډاکترانو او سيمه ييزو چارواکو ته قناعت ورکړ او له دې وروسته يې په ګډه په نږدې لس ورځو کې د دې وبا بشپړ مخنيوی وکړ.

د سنو له دې برياليۍ تجربې وروسته د انګلستان په هر ايالت کې ځينې بنسټونه جوړ شول چې د عامې روغتيا په برخه کې د نوموړې له تجربو ګټه اخلي. دغه راز د عامې روغتيا په برخه کې نويو لارو چارو د ميليونونو انسانانو ژوند خوندي کړی دی او د سنو له تجربې وروسته هر نسل د عمومي ګټو د خونديتوب په پار د نظارت او څارنې له پياوړي ځواک ګټه اخيستې ده.

په ټوله کې ويلی شو چې په تېرو دوو پېړيو کې د نړۍ په ټولنيز او اقتصادي پرمختګ کې د نظارت او څارنې ځواک ارزښت د پام وړ مهم و. په نولسمه پېړۍ کې په انګلستان کې د کليدي پرمختګونو تر ډېره د څارنې او نظارت د ځواک پرمټ شوي دي.

د انګلستان پورتني اقدامات دا په ډاګه کوي چې د نظارت په برخه کې پرمختګ او نوي ګامونه اوچتول ډيموکراسي نه شي کمزوري کولی. کله چې د انګلستان دولت د څارنې او نظارت په برخه کې نوي واکونه تصويب کړل، پارلماني سيستم نور هم د ډيموکراټيک کېدو پر لور ګامونه واخيستل. دغه راز هرکله چې ډيموکراټيکو هېوادونو د خپلو وګړو د خونديتوب په پار د نظارت ځواک پياوړی کړی، په هماغه کچه يې په اقتصادي او سياسي برخه کې پرمختګونه هم کړي دي.

البته دلته يوه استثنا شته چې په ټولو مواردو کې د دولت له لوري څارنه او نظارت ګټور نه دی تمام شوی. د شلمې پېړۍ په اوږدو کې هغو هېوادونو چې ځانونه يې په ښکاره ډول ډيموکراټيک بلل، د خپلو سياسي سيالانو او مخالفينو د خپلو لپاره د نظارت او څارنې له ځواک څخه ناوړه استفاده وکړه او دوی يې په دې ډول په بې رحمانه ډول وځپل.

د سپټمبر د يوولسمې له بريدونو وروسته امريکا د څارنې او نظارت ځواک ډېر پياوړی کړ او د ملي امنيت د خونديتوب په بهانه يې له ډيجيټلي وسايلو په استفادې د تروريزم سره د مبارزې په نوم ډېری سيستمونه تر نظارت او څارنې لاندې ونيول چې تر ډېره په دې برخه کې د نورو خصوصي حريم ونه ساتل شو او ناوړه ګټې ترې پورته شوې.

متحده ايالتونو د دې پرځای چې د خلکو د له خصوصي او سوداګريز حريم ساتنه وکړي، برعکس يې د ګوګل او فيسبوک په څېر د نورو ټولنيزو رسنيو له لارې د خلکو محرمو اطلاعاتو ته لاسرسی پيدا کړ او په ناقانونه توګه يې د دوی شخصي اطلاعات له ګواښ سره مخ کړل.

### پوښښ او کنټرول

لکه څرنګه چې د سپټمبر له يوولسمې وروسته امريکا له نويو لارو چارو په ګټنې د خلکو د نظارت او څارنې لپاره لاس پر کار شوه، په همدې ډول به د نړۍ ډېری هېوادونه د کرونا ويروس د څارنې په موخه له بېلابېلو لارو چارو ګټه پورته کړي. له همدې کبله اغېزمن شوي او زيانمن هېوادونه ټول په دې هڅه کې دي چې خپل خلک د نظارت او کنټرول له لارې خوندي کړي. اوسمهال هر هېواد له کووېډ- ۱۹ ناروغۍ سره د مبارزې په پار خپله ځانګړې روغتيايي تګلاره لري چې هڅه کوي له دې لارې له يوې خوا د خپلو خلکو څارنه وکړي او له بلې خوا عامه ذهنيت هم مثبت وساتي، خو له بده مرغه چې په متحده ايالتونو او اروپا کې په دې تړاو هېڅ اقدام نه دی شوی. بلخوا په ختيځه اسيا کې په دې اړه پراخ کار روان دی او ډېر اغېزمن تمام شوی دی. که څه هم لوېديځ په دې برخه کې د پرمختګ ژمنې کړي، خو داسې ښکاري چې دا ژمنې به ډېرې کارنده نه وي.

د ختيځې اسيا د پنځو هېوادونو ستراتېژۍ ته که پام وکړو، دا راته ښه په ډاګه کېږي چې لوېديځ او په ځانګړې توګه متحده ايالتونه په دې برخه کې څومره ناکام دي. د جنوبي کوريا او ټايوان له ډيموکراسيو نيولې بيا تر اقدار غوښتونکي چين پورې ټول د نظارت او څارنې په برخه کې ځانګړې تګلارې لري. جنوبي کوريا د کووېډ-۱۹ د خپرېدو د مخنيوي په پار د عامې روغتيا په برخه کې له کلاسيکو لارو چارو په ګټې اخيستنې سره برياله شوه او کرونا يې کنټرول کړه. دغه هېواد له ځانګړو لارو چارو څخه په استفادې خپل ټول خلک څاري او له دې لارې له يوې خوا په کور دننه د قرنطين څارنه کوي او له بلې خوا د ګرځنده ټليفون په مرستې د کرونا ويروس مثبتې پېښې په ډېرې اسانۍ تشخيصولی شي.

په همدې ډول ټايوان هم دغه هېواد ته د ورتلونکو کسانو په دقيقې څارنې سره د دغه ويروس د پرمختګ مخه ډپ کړې ده. ټايوان د څارنې او نظارت په برخه کې يوه ډېره کارنده او پرمختللې ستراتېژي رامنځته کړې چې ډېره برياله ثابته شوې ده. د بېلګې په ډول، دغه هېواد په فبرورۍ مياشت کې اعلان وکړ چې ټول روغتونونه او روغتيايي مرکزونه د نوي سيستم له لارې د خپلو مراجعينو د سفر تاريخچه کتلی شي، خو په انګلستان او امريکا کې بيا په دې برخه کې هېڅ نه دي شوي او ان په دې اړه څه ويل کېږي هم نه.

ټايوان د جنوبي کوريا په څېر د ګرځنده ټليفونو په مرستې د خپلو هېوادوالو څارنه کوي او هره شېبه کولی شي چې په دغه هېواد کې رامنځته کېدونکې مثبت پېښه تشخيص کړي.

هانکانګ له يو ډول الکترونيکي وسايلو په ګټنې هره شېبه په دغه هېواد د قرنطين څارنه کوي. سينګاپور بيا پوليسو ته CCTV سيستم په واک کې ورکړی او په ډېرې اسانۍ سره په دغه هېواد کې د کرونا د پراختيا مخنيوی شوی دی.

له دې ټولو ور هاخوا د کرونا ويروس په اصلي سرچينې (چين) کې د نظارت له پياوړي ځواک په استفادې دغه هېواد ډېر ژر ياد ويروس په خپل واک او کنټرول کې راوست. چين له (شبکه يي مديريت) څخه په ګټنې لوړی دغه هېواد په کوچنيو برخو ووېشو او وروسته يې د يوه پرمختللي سيستم په رامنځته کولو په يوه وار له يوميليون څخه د زياتو کسانو څارل، تشخيصول او د دوی د بدن د تودوخې د درجې معلومول ممکن کړل.

دغه راز چين په دې برخه کې له نورو ډيجيټلي وسايلو هم ګټه پورته کړه. چين د اوسپنې پټلۍ د دولتي شرکتونو، د هوايي چلن لويو خصوصي شرکتونو او کمپنيو په مرسته د ځانګړي نظارتي سيستم له لارې په مهمو ځايونو کې د خلکو د تګ راتګ څارنه او نظارت جدي کړ او له دې لارې يې په اسانۍ سره دغه ويروس په خپل کنټرول کې راوست. بيجينګ د خپلو خلکو لپاره په ګرځنده ټليفونونو کې داسې سيستم رامنځته کړ چې دوی په ډېرې اسانۍ سره تر تهديد لاندې او امن سيمې تشخصيولی شي.

### د ډيموکراتيکو هېوادونو د څارنې او نظارت پر لور

که څه هم د ختيځې اسيا ډېری هېوادونو کرونا ويروس کنټرول کړی، خو په اروپا، امريکا او لوېديځو هېوادونو کې دغه ويروس له کنټرول وتلی او يادو هېوادونو ته يې جدي ګواښونه پېښ کړي چې ان د دوی د راتلونکي پړاو جدي اندېښنې موجودې دي.

دا چې د عامې روغتيا په برخه کې هره ستراتېژي د خلکو د کنټرول او نظارت پر سيستم پورې تړلې ده، خو لوېديځ هېوادونه له يوې خوا اوسمهال د نظارت لپاره هېڅ ډول کارنده سيستم نه لري او که په راتلونکي کې هم د دغه سيستم د رامنځته کېدو هڅه کوي، ډېر به ورته ستونزمن وي.

په ببړنيو روغتيايي حالتونو لکه کرونا ويروس پرمهال، د اقتدارغوښتونکو هېوادونو لکه چين د څارنې او نظارت ستراتېژي ډېره برياله ثابته شوې. دغه راز د بحراني شرايطو په مديريت کې د دغو هېوادونو رول نور هم پر ډېرېدو دی. لېبرال ډيموکراسۍ هم بايد د خپلو وګړو حريم ته په احترام بايد داسې لارې چارې رامنځته کړي چې په راتلونکي کې د پورتنيو هېوادونو په څېر د بحراني شرايطو په کنټرول کې ګټورې تمامې شي. که دوی په برخه کې په همدې ډول نور هم غلي پاتې کېږي، نو چين دې تيار دي چې په ډېرې اسانۍ د لېبرال ډيموکراسۍ لپاره نړۍ ته په دې برخه کې بديل وړاندې کړي.

چين د ډيجيټلي ټکنالوژۍ او په دې برخه کې د پانګونې له لارې له لويديځ سره په سختې سيالۍ بوخت دی چې تر تر ډېره د دغه ډګر ګټونکی هم پاتې شوی دی.

لېبرال غربي ډيموکراسۍ د نظارت او څارنې په برخه کې هېڅ ډول کارنده تګلاره نه لري، له همدې کبله دې چارې دوی ډېر نهيلي کړي دي. لويدېځ که په راتلونکي کې د نړۍ لپاره د څارنې او نظارت په برخه کې بديل وړاندې نه کړي، د چين په څېر هېوادونه دې تيار دي چې دا تشه ډکه کړي او په دې سره به نړۍ بيخي بدله او بل لور ته ولاړه شي.

# بېل گېټس د کرونا وبا په تړاو مهم سوالونه ځواب کړي دي

منبع: گېټس نوټس وېب پاڼه

د مایکروسافټ شرکت بنسټگر بېل گېټس په یوه لیکنه کې وړاندوینه کړې چې مدرنه نړۍ به کلونه وروسته هم خپل عادي او پخواني حالت ته ور ونه گرځي او دغه بايللی رنگ به په اسانۍ بېرته خپل نه کړي. «په ځانگړي ډول لویې غونډې، ناستې، کنسرتونه او هغه لوبې چې په لویو لوبغالو کې به تر سره کېدې، ژر به خپل پخواني حالت ته را ونه گرځي.»

گېټس په خپله لیکنه کې وړاندوینه کړې چې که څه هم د کرونا ویروس خپرېدو، بشریت سره متحد او بسیج کړ، خو له دې سره سره د بشریت روغتیایي حوزې ته ډېر لوی زیان اوښتی دی. وضعیت کټ مټ لکه د نړیوالې جگړې په څېر دی، خو په دې توپیر چې دا ځل د نړۍ ټول وگړي د یوه سنگر ملگري دي.

بېل گېټس په دې اند دي، چې د نړۍ ټول وگړي باید یو او بل ته لاسونه سره ورکړي، د دې ناروغۍ په اړه معلومات ترلاسه کړي او د مبارزې لپاره وسایل او توکي ورته برابر شي.

د نوموړي په باور چې په دې برخه کې نوښت کېدای شي، د معایناتو اسانه کول، د واکسین جوړول او یا هم داسې یو سیاست وي چې وکولای شي په نړیواله کچه د کرونا ویروس مخه ونیسي.

دی پر دې باور دی، چې «وضعیت ورځ تر بلې د بدلون په حال کې دی. په دې برخه کې معلومات زیاتېږي، خو خبره دا ده چې ډېر کله دغه معلومات ضد او نقیض وي. دغه معلومات خلک دوه زړي او لار ورکي کوي. ظاهرآ داسې ښکاري، چې په نړیواله کچه د اقتصاد د بیا غوړېدو لپاره هر څه او ټول امکانات په لاس کې لرو، خو که دقیق فکر وشي او پام وکړی، داسې نه ده.»

گېټس وړاندې دغه پوښتنه مطرح کوي، چې ایا د کرونا پر وړاندې او د دې ناروغۍ په مخنیوي کې د هېوادونو او دولتونو عکس العمل معقول و، که نه. د ده په اند، چې د نړۍ به گوټ گوټ کې ځینې عمده بدلونونه او بندیزونه ضروري وو؛ ځکه چې په دې سره موږ وکولای شول چې د میلیونونه کسانو ژوند وژغورو او په ډېر زیاته پیمانه د کرونا ویروس د خپرېدو مخه ونیسو. نوموړی لیکي، که خلک او ښارونه نه وای قرنطین شوي، شرکتونه او فابریکې نه وای تړل شوې، نو کېدای شوای چې د تلفاتو شمېر د اوسنیو په پرتله په ځلونو ځلونو ډېر وای.

له دې هر څه سره سره د دولتونو پر وړاندې خلک ولې پټه خوله دي؟

د مایکروسافټ شرکت بنسټگر وایي، د نړۍ د هېوادونو اقتصادي وده دومره ټیټه شوې او اقتصادونه یې دومره ځپل شوي او له ماتې سره مخ شوي، چې دغه څه بې مخینې دي. دی وایي، ما تر اوسه په دومره سرعت د اقتصادي ودې ټیټېدل نه وو تجربه کړي. ټولې اقتصادي برخې فلج او تړل شوې دي، خو دی په یوه ټکي ټینگار کوي او اهمیت یې په دې کېویني، چې دا هر څه د هېوادونو د سیاستونو پایله نه وه. کله چې خلک دې ټکي ته پام کوي او فکر کوي چې کرونا ویروس په ټوله نړۍ کې خپور شوی دی او مسوولیت یې یوه هېواد او یوه کس ته نه ور گرځي، هغه ده چې خپل رفتار ته متوجه کېږي او هېڅوک هم گرم نه گڼي.

ان ډېریو په خپله پرېکړه کړې ده چې کارونو ته لاړ نه شي، سفر ونه کړي او هوټلونو ته له تگ څخه ډډه وکړي، څو یا خپله پر کرونا ویروس اخته نه شي او یا هم د کورنۍ نور مشران غړي چې تر نورو ډېر په خطر کې دي. د دې ترڅنگ د نړۍ گڼ شمېر هېوادونو پر خپلو خلکو باندې په ښار او بازار کې پر گرځېدو بندیزونه لگولي دي، څو په دې ډول ژر د ویروس د گردش مخه ونیسي او بېرته خلک خپل کارو بار او فعالیتونه پیل کړي.

عادي ژوند ته سملاسي که په تدریجي ډول ور وگرځو؟

د نړۍ بډایه هېوادونه سره له اوسه په دې فکر کې دي، چې اوسېدونکي یې په کوم ډول خپل عادي ژوند پیل کړي او کاروبار ته مخه کړي. بېل گېټس په دې اند دی، چې که ځینې هېوادونه په یوه مخ هم خلکو ته د کاروبار او فعالیت اجازه ورکړي، خو خلک به دې کار ته زړه ښه نه کړي؛ ځکه خلک باید یو ځل د امنیت احساس وکړي او په دې پوه شي، کوم ځای ته چې دوی د کار لپاره ځي او یا په ورځني ډول ور سره سروکار لري، له روغتیایي اړخه څومره ډاډمن دی. هغه که کارځای وي، ښوونځی وي، پوهنتون وي، هوټل وي او یا هم دې ته ورته نور ځایونه.

گېټس ټینگار کوي چې عادي ژوند ته ورگرځېدل به په یوه شپه نه، بلکې په تدریجي ډول وي او ډېر وخت به ونیسي. ځینې کسان به په بېړه خپل کارونه پیل کړي، خو ډېری به په دې برخه کې خورا محتاط وي. د شرکتونو او سازمانونو ځینې مشران او بنسټ ایښودونکي به د حکومت له اجازې سره سره خپل کارونه په ډېر ځنډ او له پوره ډاډمنتیا وروسته پیل کړي، ان کېدای شي څو میاشتې په دې اړه فکر وکړي او بیا وروسته پرېکړه وکړي. ځینې کسان غواړي همدا اوس یې ټول بندیزونه له سره لرې شي او ان ځینې یې پرېکړه وکړي، چې قوانین تر پښو لاندې کړي، چې په دې صورت کې کېدای شي د ډېرو ژوند او روغتیا بیا له خطر سره مخ شي. د بېل گېټس په سپارښتنه رهبران باید دې ټکي ته پام وکړي او قوانینو ته پوره درناوی ولري.

د کرونا پر وړاندې د هېوادونو بې انډوله جگړه
د کرونا ویروس د خپرېدو بدې اغېزې په ټولو هېوادونو یو ډول نه وې. هغه هېوادونه چې پر وخت یې د خپلو وگړو معاینات وکړل قرنطین او محدودیتونه یې وضع کړل، تر ډېره یې د بد وضعیت مخه ونیوله. دغو هېوادونو نه یوازې دا چې د ډېرو خلکو د مړینې مخه ونیوه، تر څنگ یې په اقتصادي برخه کې هم ډېر زیان ونه کړ او نظر ځینې هېوادونه ته دوی لا په گټه کې روان دي. دا هر څه د پر وخت او قوي پرېکړې نتیجه ده. گېټس د کووېډ- ۱۹ ویروس د ازمویني په اړه لیکلي: «هغه دښمن ته چې په سترگو نه لیدل کېږي ماتې ورکول ورته ناممکن دي، نو له همدې کبله مخکې له مخکې معاینات تر سره کول نه یوازې دا چې د میلیونونه کسانو ژوند ژغورلای شي د یوه هېواد اقتصاد هم له ماتې او مخ پر ځوړ حالت څخه ساتلی شي او دا یوه ډېره حیاتي مسئله ده.»

بېل گېټس په پرمختللو او د پراختیا په حال کې هېوادونو کې د کرونا د تلفاتو په اړه هم نظر څرگند کړی او وایي: «په ډېری هغه هېوادونو کې چې د خلکو عواید پکې کم دي، په اېچ ای وي او یا خوارځواکۍ اخته دي، ښکاره ده چې د بدن دفاعي سیستم یې هم کمزوری دی. څومره چې د یوه هېواد اقتصاد لږ پرمختګ کړی وي، نو هغه ده چې بیا د کرونا ویروس کنټرول هم پکې ستونزمن دی.» البته دا د بېل گېټس نظر دی، خو که دقیق فکر وشي امریکا د هغه پرمختللو هېوادونو له ډلې ده چې د نړۍ په کچه پکې د کرونا له کبله ډېر کسان مړه شوي او پرې اخته شوي. بېل گېټس لیکي له ښارونو لرې په کلیوالي سیمو کې چې خلک اړ دي څو په هر ډول شرایطو کې کار وکړي او خپلو اولادونو ته ډوډۍ پیدا کړي، سخته به وي چې دوی له یو او بل واټن ونیسي. ددې تر څنگ په مخ پر ودې هېوادونو کې روغتیایي نظام هم تر ډېره کمزوری وي. که ناروغ نازک حالت ته ځي او یا هم اکسیجن ته اړتیا پیدا کوي، حکومتونه نه شي کولی هر یوه تن د مصنوعي اکسیجن امکانات برابر کړي، چې دغه څه تر ډېره د خلکو مړینې ته له لار برابروي. گېټس دا هر څه خواشینوونکي بولي، خو وایي چې د کرونا تلفات نظر پرمختللو هېوادونو ته په مخ پر ودې هېوادونو کې ډېر دي.

د کووېډ- ۱۹ په اړه اړین موضوعات چې باید زده مو وي

د گېټس په اند، د دې ناروغۍ په اړه چې څومره موږ ډېر معلومات ولرو، هغومره مو په گټه دي او په دې برخه کې یې ځینې ډېرې مهمې پوښتنې مطرح کړې دي، چې تر اوسه پورې ورته قاطع ځوابونه نه دي موندل شوي.

ایا دغه ناروغي موسمي او په اوبو او هوا پورې تړلې ده؟ دا چې دغه ویروس په استرالیا کې هم خپور شوی؛ هغه هېواد کوم چې په نیمه جنوبي کره کې موقعیت لري، نو ویلای شو چې کووېډ-۱۹ انفولانزا ته ورته کومه فصلي یا موسمي ناروغي نه ده چې د اوړي په راتلو سره په مکمل ډول له منځه لاړه شي.

نامعلوم ناقلان تر کومې کچې پورې د دغه ویروس په انتقال کې رول لري؟ کوم کسان چې اوس ښه شوي او یو څه ویروس یې په بدن کې پاتې دی هغوی څنگه؟ دا چې نامعلوم ناقلان تر کومې کچې پورې د کرونا ویروس په انتقال کې رول لري سمه نه ده ثابته شوې، خو څېړنې ور باندې روانې دي.

ولې ځوانه طبقه پر دغه ویروس د اخته کېدو په صورت کې لږ له خطر سره مخ ده؟ له دغه ویروس څخه درک او پوهه په دې ځای کې مرسته کوي، چې موږ د ښوونځیو او پوهنتونونو په خلاصون کې بېړه وکړو او که نه تر پوره ډاډ وروسته یې پرانیزو. دا کیسه ډېره ژوره او اوږده ده، سمه ده چې ځوانان او تنکي ځوانان به د دې ناروغۍ پر وړاندې له لږ خطر سره مخ وي، خو که دوی په دې ویروس ککړ شي، بیا یې هم د کورنۍ نورو لویو غړو ته خطر دی او کېدای شي چې پرې اخته یې کړي.

کوم فعالیتونه په اسانۍ سره پر کرونا ویروس د اخته کېدو لامل کېږي؟ خلک ډېر کله پوښتنه کوي، چې بسته بندي شوي خواړه او یا هم په گډه په هوټلونو او یا دې ته ورته نورو ځایونو کې خوراک کول، هم پر کرونا ویروس د اخته کېدو لامل کېږي؟ گېټس لیکي: «دربغې دې پوښتنې ته مې ځواب درلودای.» خو ټول هغه ځایونه چې پاکې لږ مراعتوي د ویروس د انتقال امکان پکې ډېر دی.

واکسین ته به کله لاسرسی پیدا کړو؟

واکسین تر بلې هرې وسیلې د بشر په تاریخ کې د بېلابېلو ناروغیو پر وړاندې د انسانانو ژوند ژغورلی دی. دغه راز نویو واکسینو هم په ډېره لوړه کچه د ماشومانو د مړینې مخنیوی کړی دی. د بېلگې په توگه په ۲۰۰۰م مېلادي کال کې به په کلني ډول لس میلیونه ماشومان مړه کېدل، خو اوس دغه کچه پنځه میلیون ته راښکته شوې ده. دا ټول د واکسینو برکت دی.

له کووېډ- ۱۹ مخکې نړۍ ته د ورگرځېدو لپاره یوازینۍ لار د فوق العاده او گټور واکسین جوړول دي، څو وکولای شي له ټولې نړۍ ددې ویروس تغر ټول کړي. گېټس وړاندې لیکي له بده مرغه چې د یوې نوې ناروغۍ د له منځه وړلو لپاره گټورو او موثرو واکسینو ته لاس رسی موندل په طبیعي ډول لږ تر لږه پنځه کاله وخت نیسي. که واکسین جوړ هم شي، په لومړي سر کې دا پوښتنه مطرح کېږي، چې کومو کسانو ته باید لومړیتوب ورکړل شي. خو په دې اړه کېدای شي په نړیواله کچه پرېکړه وشي او دا کار په ریښتیا هم چې یوه نړیوال توافق ته اړتیا لري.

له دویمې نړیوالې جگړې وروسته د بشر د تاریخ برخلیک ټاکونکې زمانه
بېل گېټس په پای کې لیکي، چې له دویمې نړیوالې جگړې څخه وروسته زموږ د پلرونو د نیکونو لپاره ډېرې حساسې او سرنوشت جوړونکې شېبې وې، خو په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس تر خپرېدو او ددې ویروس د له منځه تلو وروسته بیا د ټول بشر لپاره سرنوشت جوړونکې شېبې پیلېږي. د گېټس په باور د هغه زمانې د اوسېدونکو لپاره به ډېره سخته وای، چې هغه حالت یې له یاده وتلی وای او اوس چې ټول بشر له یوه ځوروونکې حالت سره مخ دی هېڅکله به دا وختونه د چا له یاده ونه وځي. دا درد او رنځ به کلونه کلونه دوام وکړي.

# پر ایراني وحشت غبرگون؛

## بهرنیو چارو وزارت: ولسمشر غني پخپله د ایراني عسکرو د وروستي جنایت څېړنه کوي



پر افغان مسافرو د ایران وروستي وحشت په کور د ننه سخت غبرگونونه پارولي دي. وړمه ورځ داسې راپورونه خپاره شول چې ایراني عسکرو پنځوس افغانان چې ایران ته په کار او مزدورۍ پسې روان وو، په سیند لاهو کړي دي. له دې ډلې ۱۲ کسه یې بریالي شوي چې ځانونه وژغوري او پاتې نور اوبو ډوب کړي دي. ژغورل شوي مسافر وایي چې ایراني عسکرو وهل، رټل، ډزې یې ورباندې کولې او دوی یې اړ ایستل چې ځانونه اوبو ته واچوي.

افغان حکومت، طالبانو او گڼو سیاسیونو د ایران پر دغه وحشتناکه کړنه غبرگون ښودلی دی.

هره ورځ لسگونه افغانان د کار او مزدورۍ لپاره له غیر قانوني لارو ایران ته اوړي. د قوانینو له مخې، ایراني حکومت غیر قانوني تلونکي کډوال باید د دوی حقوقو ته په کتو بېرته خپل هېواد ته واستوي، خو وړمه ورځ ایراني عسکرو بشر ضد جنایت ترسره کړی دی. دوی افغان کډوال تر نیولو وروسته وهلي ټکولي او بې عزتي یې ورته کړې ده. په هرات کې له دغه پېښې ژغورل شوو مسافرو ویلي چې ایراني عسکرو کالي ترې و ایستل، ډېری مسافر یې سخت ووهل او بیا یې ډزې ورباندې کولې. د دوی په وینا، دوی کډوال اړ ایستل چې هریرود سیند ته ځانونه وغورځوي. لومړني راپورونه وایي چې ایراني عسکرو په زور او جبر پنځوس افغان کډوال سیند ته لاهو کړي دي، خو ځینې سرچینې بیا دا هم وایي چې د لاهو شوو کسانو شمېر ان ۷۰ تنو ته رسېږي.

د فاریاب یوه اوسېدونکي چې په دې ډله کې یې ایران ته د تگ هڅه کوله ویلي، ایراني پولیسو ټول مسافر اړ ایستل چې باید ځانونه سیند ته وغورځوي. د ده په خبره، خلک به یې سند ته غورځول او دوی به په خپلو کې خندل. شاه ولي وایي: ((خلکو د ایراني پوله ساتو پښې ښکلولې، خو دوی په قمچینو وهل او ډزې یې پرې کولې. پر ما یې هم ډزې وکړې، ویل هغوی چې اوبو کې ډوب شول، ته هم ځان ډوب کړه، هغوی چې سیند کې ډوبېدل، دوی ورته کتل او پخپلو کې یې خندل)).

بلخوا د هرات د حوزوي روغتون مسوولین هم وایي چې له پېښې د پنځو کسانو جسدونه وروړل شوي دي. د دغه روغتون مسوول ډاکټر محمد عارف جلالي وایي، چې جسدونه له اوبو را ایستل شوي او د ډوبېدو له امله یې سا ورکړې ده.

افغان حکومت بیا د ایراني عسکرو پر دغه کړنه غبرگون ښودلی دی. د هېواد د بهرنیو چارو وزارت وایي چې دغه پېښه د دوو ځانگړو مراجعو له لارې څېړل کېږي. د دغه وزارت د ویاند گران هېواد په وینا، له یوې خوا ولسمشر غني پخپله او له بلې خوا د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال په مشرۍ پلاوی دغه مسئله څېړي. گران هېواد وایي چې د بهرنیو چارو وزارت سرپرست وزیر ښاغلي حنیف اتمر پلاوي ته دنده سپارلې چې ژر تر ژره پېښه روښانه کړي او تر هغه وروسته ټول معلومات له رسنیو او خلکو سره شریک کړي. بلخوا ولسمشر غني پخپله د دې پېښې د څېړلو ژمنه کړې ده.

له دې سره جوخت وسله والو طالبانو هم د یوې اعلامیې په خپرولو سره د ایراني عسکرو پر دغه کړنه غبرگون ښودلی دی. د دوی په خبره، افغانان اړ دي چې په گاونډیو هېوادونو کې کار وکړي، نو ایراني عسکرو ته نه ده په کار چې پر وړاندې یې دغه ډول اقدام ترسره کړي. وسله وال طالبان وایي، دا مسئله به د عامو په ذهنیت کې د ایران انځور پیکه کړي.

د ایران حکومت بیا دغه پېښه رد کړې ده او وایي چې د دوی په خاوره کې له افغان کډوالو سره داسې کوم چلند نه دی شوی.

د سرچینې په خبره، دوی له افغانانو سره د (اسلامي اخوت) پر بنسټ چلند کوي او یاده پېښه د ځینو کړیو هڅه ده چې غواړي د دواړو هېوادونو اړیکې ترینگلې دي.


دا لومړی ځل نه دی چې ایران د افغان کډوالو پر وړاندې دغه ډول بشر ضد او انسان ضد کړنه ترسره کوي، بلکې له کلونو راهیسې افغانان په ایران کې د مجبورۍ او بې روزگارۍ له امله رټل کېږي او په بېلو نومونو ځپل کېږي.

## د کتــاب خبــرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### لومړۍ برخه
### د راتلونکي واګې په لاس کې واخله!
### دویم څپرکی




دلته یوازې د ژوند جوړولو خبره نه ده، بلکې خلک په دې فکر دي چې څنګه ژوند وکړو. خلک ورځ په ورځ د خپل ژوند د واک اخیستلو لپاره را ویښېږي. غواړي له خپلو کورنیو سره زیات نژدې پاتې شي، د خپل وخت واک په لاس کې واخلي، له کوره کار وکړي او خپل برخلیک په خپله و ټاکي. د ډیسایفر په نظر پوښتنه کې ۸۴ سلنه ګډونوال په دې باور وو، که موږ خپل ازاد کار درلودای، نو په ډېره لېوالتیا به مو کاوه. د دې سوال په ځواب کې یې چې دوی ولې غواړي خپل شخصي کار ولري، وویل:((د دې لپاره چې خپل کاري ژوند ته ډېره لېوالتیا ولرو.))

حقیقت دا دی چې په شلمه پېړۍ کې د کاري مصئونیت او د بل چا لپاره د کار کولو د اوږدمهاله، خوشاله او بشپړ ژوند وعدې زموږ په مخکې ټوټه ټوټه شوې.

**د ګومارلو افسانه**

زموږ د اکثرو دماغونه په دې نظریه مینځل شوي چې د بل چا لپاره کار کول د انسان د ژوند یوه برخه ده. له تاریخي اړخه د بل تر لاس لاندې کار کول عادي نه دي، بلکې نسبتاً نوې پدیده ده.

په زراعتي زمانه کې خلکو د ځان لپاره کار کاوه. زیات خلک متشبثین وو. دغو کروندګرو د پاچا په ځمکو کې کار کاوه؛ خو د پاچا لپاره یې کار نه کاوه. دوی له پاچا څخه پیسې نه اخیستې. برعکس، د پاچا له ځمکو یې ګټه اخیسته او په مقابل کې یې پاچا ته مالیه ورکوله. کروندګرو خپل ژوند د کوچنیو شرکتونو د خاوندانو په څېر اداره کاوه. قصاب، نانوای او شمع جوړوونکي نه وو او دغه کسبونه او هنرونه په امریکا کې نوي نسل ته د تخلص په توګه را نقل شول. مثلاً، سمیت اهنګر ، بیکر نانوای، ټیلر خیاط او کوپیر بیلر جوړوونکی. دغه تخلصونه به چې د کوم نوم په پای کې وو، پخوا به یې نیکونو همدا کار کاوه.

د بل چا تر لاس لاندې کار کول او د کارګر او کار ورکونکي د موجودیت تقاضا د صنعتي وختونو په رارسېدو منځته راغله. په پای کې دولت د ښوونې او روزنې دنده په غاړه واخیسته او د پروشیایانو نظام یې رامنځته کړ چې تر اوسه په ډېرو غربي هېوادونو کې ګټه ترې اخیستل کېږي.

ایا کله مو فکر کړی چې په ٦۵ کلنۍ کې د تقاعد کېدو نظریه له کومه شوه؟ زه به درته ووایم. د پروشیا ولسمشر اوتو فون بېسمارک په ( ۱۸۸۹م) کې دا طرحه وړاندې کړه. اصلاً بېسمارک ٦۵ کلني نه، بلکې ۷۰ کلني ټاکلې وه. د بېسمارک په اند ٦۵ کلني له اقتصادي ګواښونو څخه وتلې وه، ځکه په هغو وختونو کې ۴۵ کاله د یو انسان اوسط ژوند و. اوس خو زیات خلک تر ۸۰ او ۹۰ کلونو پورې ښه تندرسته وي. تر دغه عمر پورې د تقاعد پیسې ورکول به فدرال دولتونه دیوالیه کړي.

که د پروشي زده کړې فلسفه مطالعه کړئ، نو پوه به شئ چې د تعلیم او روزنې موخه سرتېري او دولتي کارکوونکي وو. د هغوی داسې خلک پکار وو چې امرونه ومني او هغه څه وکړي چې بل څوک ورته وایي. د پروشي نظام غوښتنه د کارګرو تولیدول وو. د تېرې پېړۍ په شپږمه او اوومه لسیزه کې IBM شرکتونو د ژوند تر پایه خلک پر کار ګومارل. دا یو ښه کاري مصئونیت و؛ خو په ۸۵ میلادي کال کې دوی خپلې وروستۍ اندازې ته ورسېدل. له هغه راهیسې په یوه شرکت کې د ثابت، دایمي او مطمئن کار کولو نظریه له صفر سره برابر ده.

کېدای شي ډېر خلک په دې ورځو کې له اقتصادي اړخه په سختۍ کې وي؛ خو هغه نوي سوداګر چې ذهن یې د دې کتاب راتلونکو لارښوونو ته تیار دی، په دې سختو ورځو کې هم له اقتصادي اړخه د پرمختګ نظریه لري. دا وخت یوازې د نوې سوداګرۍ د پیلولو وخت نه دی، بلکې د سوداګرۍ د پیلولو لپاره تر نن ورځې بل هېڅ ښه فرصت نشته.

مخکې مو یادونه وکړه چې کله حالات سخت شي، نو سختۍ له منځه وړل کېږي.
که داخبره رښتیا وي ـ چې رښتیا هم ده ـ نو دلته دوې پوښتنې پیدا کېږي.
لومړی. ایا غواړئ د سختۍ له منځه وړونکی کس شئ؟ که مو ځواب هو وي، نو دویمه پوښتنه پیدا کېږي.
دویم. څه باید وکړو؟ د اول سوال ځواب باید تاسو ورکړئ او د دویم سوال ځواب زما ښه زده دی. دا ټول کتاب مې د دویم سوال په ځواب کې لیکلی دی. **دوام لري...**

# یمن

حشمت الله نوري



یمن په منځني ختیځ او د عربستان د ټاپووزمې په جنوب کې د عرب سمندرګي او د عدن د خلیج سره په ګاونډیتوب کې د شمالي عرض البلدونو د ۱۲ او ۱۸ درجو او د ختیځو طول البلدونو د ۴۳ او ۵۲ درجو ترمنځ پروت دی. د دغه هېواد ټول پراخوالی ۳۲۸۱۳۴ کیلو متره مربع دی. شمال ته یې سعودي عربستان، جنوب ته یې عرب سمندرګی او د عدن خلیج، ختیځ ته یې عمان او عرب سمندرګی او لویدیځ ته یې سور سمندرګی موقعیت لري.

د یمن د شمالي برخو هوا د عربستان د نامتو ډاګ ربع الخالي تر اغېز لاندې توده او وچه ده. د جګو او غرنیو سیمو هوا یې په دوبي کې لنده او متعدله او په ژمي کې وچه او لږ سړه ده او ځینې وختونه پکې واورې هم اوري. له سره سمندرګي سره د ګاونډیتوب له امله د یمن د لوېدیځو او جنوب لویدیځو سیمو هوا توده او لنده ده. دغه راز په دې سیمه کې کلنۍ اورښت لږ دی، په داسې حال کې چې په جګو او غرنیو سیمو کې یې د اورښت اندازه ډېره ده.

د دغه هېواد پلازمېنه صنعا ښار دی. د ټولو وګړو شمېر یې څه باندې ۲۸ میلیونه تنه اټکل شوی چې په هر کیلو متر مربع سیمه کې یې ۴۵ تنه ژوند کوي. د یمن ۴۰ سلنه وګړي په ښارونو کې ژوند کوي او پاتې ٦۰ سلنه نور یې بیا په کلیو او بانډو کې مېشت دي. د دغه هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ په د څلورو ماشومانو د زیږېدو اجازه لري.

یمن د اداري وېش له پلوه په ۲۱ ولایتونو وېشل شوی دی. مهم ښارونه یې سعده، رغوان، ماریب، عمران، تاییض، هاریب، حدیده، دولا، حجازیان، شابوا او لاهج دي.

د دغه هېواد اوسېدونکي سپین پوستي، افریقایي، عرب او کمه برخه یې اروپایي نژاده دي چې تر ډېره په ښارونو کې مېشت دي. رسمي ژبه او لیکدود یې دواړه عربي دي. ۹۷ سلنه خلک یې مسلمانان او پاتې نور یې یهودیان، مسیحیان او هندوان دي.

د متحد یمن اساسي قانون د ۱۹۹۱ ز کال د مې په ۱٦ مه اعلان شو چې د ۱۹۹۴ ز کال د سپټمبر په ۲۹مه او د ۲۰۰۱ ز کال په فبروري کې ځینې بدلونونه پکې راغلل. لومړی وزیر او مرستیالان یې د ولسمشر له خوا ټاکل کیږي. د یمن ملي شورا دوې خونې لري؛ لومړی مشرانو جرګه چې ۱۱۱ غړي لري او ټول د ولسمشر له خوا ټاکل کیږي. دویم ولسي جرګه چې ۳۰۱ غړي لري او د خلکو په خوښه د شپږو کلونو لپاره ټاکل کیږي.

د ۱۹۹۷ز کال په مې میاشت کې د یمن ولسمشر یوه مشورتي شورا جوړه کړه چې ۵۹ غړي یې ټول د ولسمشر لخوا ټاکل کیږي. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو عمر ۱۸ کاله دی. حقوقي نظام یې پر اسلامي، ترکي او انګلیسي قوانینو او د سیمه ییزو قبایلو پر عنعنوي اصولو ولاړ دی. ستره محمکه د دغه هېواد تر ټولو لوړ قضایي ارګان بلل کیږي.

د خلکو عمومي کانګرس ګوند، د اسلامي ریفورم ډله، سوسیالیست ګوند، د بعث ملي ګوند، عربي سوسیالیست ګوند او د یمن سوسیالیست ګوند، د دغه هېواد له مهمو او ډېر نفوذ لرونکو ګوندونو څخه دي. شمالي یمن د ۱۹۵۷ ز کال د ډسمبر په ۳۰مه او جنوبي یمن د ۱۹۷٦ ز کال د ډسمبر په ۱۴مه د ملګرو ملتونو غړیتوب هم ترلاسه کړ. اوس د متحد یمن جمهوریت د ملګرو ملتونو د ټولنې غړی هېواد دی.

شمالي یمن د ۱۹۱۸ ز کال په نومبر کې له عثماني امپراتورۍ او جنوبي یمن د ۱۹٦۷ ز کال د نومبر په ۳۰مه له انګلستان څخه خپلواکي ترلاسه کړه. د ۱۹۹۰ ز کال د مې په ۲۲ مه د دواړو یمنونو له یوځای کېدو څخه د یمن جمهوریت رامنځته شو او اوس د مې ۲۲مه په دغه هېواد کې د خپلواکۍ د ورځې په نوم نماځل کېږي.

یمن د عربي نړۍ یو بېوزله هېواد دی. د نوییمې لسیزې په منځنیو کلونو کې دغه هېواد د تېلو د تولید له امله ګړندی پرمختګ وکړ، خو په ۱۹۹۸ز کال کې د تېلو د بیو ټیټوالي له امله زیانمن شو. له دې وروسته یمن د خپلې اقتصادي تګلارې د ټاکلو او عصري کولو لپاره د هغه ریفورم په پلي کولو بوخت شو، چې د پیسو نړیوال صندوق یا ای ایم ایف د دغه هېواد د اقتصاد د اساسي بنسټونو د رغولو لپاره طرحه کړی و. دغه ریفورم د یمن د بهرنیو پورونو د کمولو او اقتصاد له بیا جوړونې سره مرسته وکړه. یمن په ۱۹۹۹ز کال کې ډېره هڅه وکړه چې خپل لګښتونه لږ کړي او د ای ایم ایف د پروګرام د ښه تطبیق لپاره ټول امکانات په کار واچوي. له ۲۰۰۰ ز کال وروسته کله چې په نړۍ کې د تېلو بیې لوړې شوې، د یمن اقتصادي پرمختګ ښه شو او دولت د اقتصاد د ځینو بنسټیزو پروژو د جوړولو لپاره پیسې پیداکړې. دغه راز په دې وروستیو کلونو کې هم د یمن اقتصادي چارواکي هڅه کوي چې لګښتونه وځاري او د ای ایم ایف د همغه پخواني پروګرام موخو ته ورسیږي.

د دولتي شمېرو له مخې، د دغه هېواد ۳۵ سلنه کاري ځواک وزګار دی چې له همدې کبله په دغه هېواد کې اقتصادي ناامني رامنځته شوې ده. ناخالص کورني تولیدات یې ٦۰ میلیارده ډالره او د ناخالص کورني تولید کلنۍ وده یې شپږ سلنه اټکل شوې ده. همدا راز د سړي سر کلني عاید کچه یې ۹۲۵ ډالرو ته رسیږي.

د اومو تېلو استخراج او چاڼ، ټوګران، چرمي جامې، خوارکي توکي، المونیم، سمنټ، لرګین توکي، د سوداګرتوو بېړیو ترمیم، لاسي کارونه او داسې نور د یمن په صنعت کې رغنده رول لوبوي.

د دغه هېواد درې سلنه ځمکه د کرنې وړ ده. پاتې نوره خاوره یې څړځایونو، ځنګلونو، غرونو، بیدیاوو، سیندونو، ښارونو او د استوګنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د یمن ۵۰ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د دغه هېواد ۸ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدغه سکټور څخه لاس ته راځي. حبوبات، قهوه، خرما، تېلي دانې، پنبه، تنباکو، مېوې، سابه، غوښه، لبنیات، هګۍ او وابښه د دغه هېواد مهم کرنیز محصولات بلل کیږي.

تېل، د ډبرو سکاره، مس، ګوګړ، جست، سره زر، سپین زر، سلفر، مرمر او مالګه د یمن مهمې کانې زېرمې دي. د صادراتو ټوله بیه یې ۸ مېلیارده ډالره او د وارداتو ټوله بیه یې څه باندې ۸ میلیارده ډالرو ته رسیږي. چین، تایلنډ، هند، برازیل، جاپان، جنوبي افریقا، عربي متحده امارات، سعودي عربستان او داسې نور یې لوی سوداګریز شریکان دي.

یمن د اورګاډي پټلۍ نه لري، خو پنځه د ګارګو بېړۍ او ۵۵ هوایي ډګرونه لري چې ۱۸ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي. د پیسو واحد یې یمني ریال او مالي کال یې عیسوي دی. د ټلیفون کوډ نمبر یې ۰۰۹٦۷ او د انټرنېټ کوډ نمبر یې VE دی. درې میلیونه کسان یې انټرنېټ ته لاسرسی لري.

په یمن کې ډېری رسنۍ دولتي دي. دغه هېواد دوه ملي ټلویزیونونه، دوې ملي او پنځه سیمه ییزې راډیوګانې لري. دغه راز یمنیان د عمان او سعودي عربستان ټلویزیونونه هم لیدلی شي، خو په خصوصي برخه کې یې بیا هېڅ رسنۍ نشته.

یمن د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید په حساب د آسیا له مخې پر ودې هېوادونو څخه دی. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو پورته ۷۰ سلنه خلک (نارینه او ښځې) دواړه په لیک او لوست پوهیږي.

پخوا د عربستان ټاپو پر درې برخو وېشل شوی و. د دې وېش یوه برخه عربستان سعید نومېده چې عربستان د ټاپووزمې په جنوب لوېدیځه برخه کې پرته وه او د اوسني یمن او عصر سیمې پکې راتلې. یمن او عصر پخوا په هغه شتمنو هېوادونو پورې اړه درلوده چې د وخت سوداګري یې په لاس کې وه. له میلاد نه نه دوې پېړۍ وړاندې بیا تر شپږمې میلادي پېړۍ پورې عربستان سعید د حمیري د لړۍ په لاس کې و. په ۵۲۵ ز کال کې حبشیانو په عربستان سعید یرغل وکړ اود حمیري لړۍ یې پای ته ورسوله.

په ۱۵۱٦ ز کال کې یمن د مصري واکمنو لاس ته ورغی او له دې څخه درې کاله مخکې پرتګالیان د یمن ځینو سرحدي سیمو ته ننوتي وو. یمن په ۱۹۵۸ ز کال کې له عربي متحده جمهوریت، مصر او سوریې سره یوځای، خو درې کاله وروسته بېرته ترې جلا شو.

افغانستان د ۱۳۴۹ لمریز کال د کب په میاشت یا د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د پاچایي په ورستیو کلونو کې له دواړو یمنونو شمالي او جنوبي سره نااستوګنې سیاسي اړیکې ټینګې کړې. په افغانستان کې د غويي له کودتا وروسته د افغانستان او شمالي یمن اړیکې کمزوره شوې؛ ځکه چې د ډیموکراتیک جمهوریت چارواکو د جنوبي یمن له مشرانو سره نږدې فکري اړیکې او ګټې درلودې. په ۱۳٦۴ لمریز کال کې په عدن یا د جنوبي یمن په پلازمېنه کې د افغانستان سفارت پرانیستل شو. دغه راز جنوبي یمن ورته ګام په ۱۳٦۷ لمریز کال کې پورته او په کابل کې یې خپل سفارت پرانیست.

د ۱۹۹۰ ز کال د مې په ۲۲ مه چې دواړه یمنونه سره یوځای شول، له همدې امله افغانستان خپل سفارت له عدن څخه صنعا ته چې د واحد یمن د پلازمېنې په توګه منل شوی و، ولېږداوه. دغه سفارتونه په ۱۹۹۲ ز کال کې ځکه وتړل شول چې دواړو هېوادونو یو له بل سره نږدې اړیکې نه درلودې. له افغانستان څخه تر یمن پورې د هوا له لارې فاصله ۲۸۰۳ کیلومتره ته رسېږي، دغه راز د کابل او صنعا ښارونو ترمنځ د وخت توپیر هم یو نیم ساعته دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,۲۰ |
| € | ۸۲,۲۰ |
| Rp. | ٤۷۷ |
| ₹ | ۹۰۰ |
| ¥ | ۱۰,۵۰ |
| £ | ۹۱,۲۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# هڅه وکړئ چې ځانګړي اوسی!

ژباړه: حمیدالله حمیدي

غواړی په خپلو کارونو کې مو غوره اوسی؟ که مو ځواب مثبت وي، نو دغه جمله په لوړ اواز تکرار کړئ: «زه غواړم تر ټولو غوره اوسم.» پرېږدئ چې د دغه غږ انعکاس مو ذهن ته داخل شي او په ناخبره ضمیر کې مو ثبت شي. «زه غواړم تر ټولو غوره اوسم!»

تاسو کولای شی په هغه چا باندې بدل شی چې غواړی او خوښېږي مو، خو لومړی باید دا باور وکړئ چې تاسو کولای شی. کله مو چې دغه ډول فکر وکړ، بیا وروسته په عمل کې د ثابتولو لپاره لاس پر کار شئ. که غواړی په تر ټولو غوره ډاکټر، انجنیر، وکیل او یا هم هر بل مسلکي کس چې ستاسو خوښېږي، بدل شی، نو د یو څه وخت لپاره مطالعه وکړئ او زده یې کړئ. دومره مطالعه وکړئ او معلومات ترلاسه کړی چې په هغه برخه کې تر ټولو غوره وی، نه یو معمولي مسلکي کس. د غوره والي لپاره باید خپله ټوله هڅه وکړئ. زه خو په دې اند یم چې که غواړو د ځان لپاره یو مسلک وټاکو، نو د یوه غوره مسلکیتوب لپاره باید خپله ټوله هڅه په کار واچوو.

که غواړی تر ټولو ښه او غوره هنرمند شی، نو ډېر وخت باید تمرین ته ورکړئ. تمرین په اړونده برخه کې ستاسو د پیاوړتیا لامل کېږي او په ټول توان باید دغه کار وکړئ. هغه کسان چې نن بریالي دي، هېڅ داسې کومه بله ځانګړتیا نه لري. هغوی هم معمولي نارینه او ښځې دي، خو څه شی چې د دوی د بریا لامل شوي، هغه هڅه ده. کله چې نور تسلیم شول، دوی تسلیم نه شول او خپلې هڅې ته یې دوام



ورکړ. په داسې حال کې چې ځینې په دې قانع شول چې همداسې معمولي اوسي او عادي ژوند ولري، دوی قانع نه شول او غوښتل یې چې باید د لوړې کچې ژوند ولري، نه داسې چې لاس یې بل ته غځولی وي او یا له بل چا سره کار وکړي. دوی غوښتل داسې کار وکړي چې نور خلک ور سره په کار شي او د نورو خلکو لاسنیوی وکړي او خیر یې ورته ورسېږي. تاسو هم کولای شی ځانګړي اوسی. یوازې اړتیا دا ده، هر کار چې کوی، ښه ډېر زیار پکې وباسئ او هڅه وکړئ. بل گام واخلئ، ډېره هڅه وکړئ او مه تسلیمېږئ. تاسو چې کوم خبر لولی، کېدای شي عنوان یې داسې وي؛ اووه کلن ماشوم کولای شي ډېره تېزه او په تر ټولو غوره ښه پیانو وغږوي، خو دوی دا نه وایي چې دغه اووه کلن هلک هره ورځ لس ساعته تمرین کوي، څو وکولای شي غوره پیانو وغږوي.

بریا خپله یو ځانگړی او ساده فورمول لري. ټوله هڅه وکړئ. خلک له دې کار سره مینه لري. یوازې دا هم بسنه نه کوي چې ټوله هڅه وکړئ. لومړی باید پوه شی کوم کار باید وکړئ، کله مو چې موخه روښانه کړی، بیا هغه وخت خپله ټوله هڅه پکار واچوی. له معمولي نړۍ سره خدای پاماني وکړئ او ځان مه پکې محدودوئ. پیل یې کړئ، یو ساعت زیاته مطالعه وکړئ، یو ساعت زیات تمرین وکړئ. یوازې همدومره کافي ده چې پر خپل اړوند فعالیت یو ساعت نور فعالیت ور زیات کړئ. خپله ټوله هڅه وکړئ او هدفمند ژوند پیل وکړئ. تل له خپل ټول توان څخه کار واخلئ. څه چې نن کړی، سبا به یې هرو مرو ربېئ. کله چې په دفتر یا بل کارځای کې کومه پروژه او دنده در سپارل کېږي، نو هڅه وکړئ چې په تر ټولو ښه بڼه یې سرته ورسوئ او مدیر ته یې تسلیم کړئ. داسې کار وکړئ چې در پام یې شي. کار داسې ترسره کړئ، چې کله یې ورته سپاری، خوشاله شي او ټول وخت د یوه تکړه او پیاوړي انسان حساب در باندې وکړي. هر کار ښه کار کېدای شي، خو په دې شرط چې تاسو خپله هڅه وکړئ او په تر ټولو غوره بڼه یې تر سره کړی او هڅاند اوسی. کله چې تاسو خپله د کار د ښه والي لپاره هڅه کوی، نو د هغه کس لپاره هم ارزښت پیدا کوی چې دنده یې درته سپارلې ده. دوی هرو مرو ستاسو د کار قدر کوي او ارزښت درکوي. دغه څه نه یوازې په کاري محیط کې صدق کوي، بلکې د یوې مور، یوه پلار یا د ژوند د شریک په توگه هم باید تر ټولو غوره اوسئ، څو مو اولادونه یا د ژوند ملگری در باندې باور وکړي او ترڅنگ مو واوسي، مینه درسره وکړي او ستاسو په څېر شي.

که په داسې یوه موقعیت کې وی، چې له کارځایه بل شرکت او یا بل ښار ته واستول شی، نو خپلې چارې داسې ترسره کړئ چې بل وخت هم د دغه کار لپاره تاسو وټاکل شئ؛ ځکه په دې سره به تاسو یو متفاوت ژوند تجربه کړئ.

چارلېز گینگزلي ویلي: «دا چې ځان مجبور کړئ، څو یو کار تر سره کړئ او خپله ټوله هڅه وکړئ پر ځان کنټرول، ملگرتیا، هڅه، د ارادې قوت، رضایت، خوښي او نور زرگونه ځانگړتیاوې په تاسو کې پیاوړې کېږي. دا هغه ځانگړتیاوې دي چې یو پیاوړی او بریالی کس یې لري.» که تاسو هڅاند وی او د یوه کار د تر سره کولو په لټه کې وی، هرو مرو به یې ترسره کړئ.

موږ ټول د یو څه وخت لپاره په دې خاورینه کُره کې ژوند کوو او نن یا سبا به له دې نړۍ څخه سترگې پټوو، خو دا چې تر څه وخت پورې ژوندي وی، له ژونده خوند واخلئ، خلکو ته خیر ورسوئ، د بېوزلو کسانو لاسنیوی وکړي او د ژوند له هرې شېبې گټه پورته کړئ. تاسو باید تل روغ، پیاوړي او هوښیار اوسئ، څو هم د ځان او هم د نورو لپاره یو څه وکړای شی. په دې نړۍ کې ډېر ښه کارونه شته چې تاسو یې باید تر سره کړئ. نړۍ تاسو ته اړتیا لري او تاسو باید دغه اړتیا پوره کړئ.

# د کرونا له چټکې پراختیا سره سره؛

## ځینې اروپایي هېوادونه وایي چې د دغه ویروس له کبله لگېدلي بندیزونه به راکم کړي

په داسې حال کې چې کرونا ویروس په ټوله نړۍ کې په چټکۍ سره د پراختیا په حال کې دی، خو ځینو اروپایي هېوادونو ویلي چې د دغه ویروس له کبله به لگېدلي بندیزونه په تدریجي ډول راکم کړي.

په اسپانیا کې سر له نن څخهگرځبندیز کمېږي، خو په عمومي لېږد رالېږد، موټرو او بسونو کې د ماسک مراعاتول اجباري کېږي. نور اروپایي هېوادونه هم د اسانۍ راوستلو په درشل کې دي، خو ټولنیز واټن مراعاتول بیا پر خپل ځای پاتې دی.

د اسپانیا لومړي وزیر پېدرو سانچر ویلي، دولت یې شپږ میلیونه ماسکونه د عمومي لېږد رالېږد په شبکه کې پر خلکو وېشي او اووه میلیونه نور ماسکونه به ځایي چارواکو ته ورکړي چې پر خلکو یې ووېشي. دغه راز په یاد هېواد کې بوډاگانو ته له څو ورځنې بندیز وروسته په لومړي ځل بهر ته د ورزش کولو لپاره د وتلو اجازه ورکول کېږي. په دغه هېواد کې پر کورونا ویروس ټولټال ۲۴ زره او ۸۲۴ کسان اخته شوي، خو ورځ په ورځ پرې د اخته کېدونکو کسانو شمېر راټیټېږي.

په اروپا کې تر ټولو ډېر په ایټالیا کې پر کرونا ډېر کسان اخته شوي، چې له امریکا وروسته دغه هېواد په دویم او اسپانیا په درېیم کتار کې راځي.

په ورته وخت کې په نورو اروپایي هېوادونو لکه فرانسې او اتریشکې هم د کرونا له کبله بندیز په تدریجي ډول د کمېدو په حال کې دی، خو ځینو هېوادونو په عمومي لېږد رالېږد ځایونو او پلورنځیو کې د ماسک مراعاتول اجباري کړي دي.


دا په داسې حال کې ده چې یاد ویروس تر دې دمه په ټوله نړۍ کې له ۲۴۵ زرو زیات کسان وژلي او تر درې نیم میلیونو ډېر پرې اخته شوي دي.

دغه ویروس د بل هر هېواد په پرتله په متحدو ایالتونو کې ډېر کسان مړه کړي چې شمېر یې څه باندې ٦٦۳۰۰ کسانو ته رسېږي چې تر ټولو ډېر یې په نیویارک ښار کې دي.

دغه راز د نیویارک والي اندریو کامیو د ښارونو او کاروبار د بیا پرانیستلو غوښتنه غیرعاقلانه بللې ده او ویلي یې دي پوهیږي چې خلک بېکاره شوي او له اقتصادي پلوه ځپل شوي دي، خو له کروناسره مبارزه تر ټولو مهمه ده.

بلخوا دغه ویروس په روسیه او یو شمېر نورو اسیایي هېوادونو کې هم په چټکۍ سره د پراختیا په حال کې دی، خو په چین کې یې پېښې نږدې صفر ته راټیټې شوې دي.

# ولسمشرغني: خلک دې د وچې ډوډۍ د وېشلو د پروسې نظارت وکړي



ولسمشرغني تېر ماښام د ملي ټلویزیون له لارې له قومي مخورو او نورو خلکو وغوښتل چې بې وزلو خلکو ته د وچې ډوډۍ د وېشلو په نظارت کې له حکومت سره همکاري وکړي.

هغه وویل : (( له تاسو ټولو څخه مې هیله دا ده چې د کرونا ویروس د خپرېدو د مخنیوي او د خپلو کورنیو د ژغورنې په موخه د روغتیایي کارکوونکو ټولې هغه صحي لارښوونې چې د دوی له لوري توصیه کېږي او د رسنیو له لارې خپرېږي، په جدي توگه په پام کې ونیسئ.»

ولسمشر غني دغه راز زیاته کړه، د کرونا وبا د منفي اقتصادي او ټولنیزو اغېزو له امله رامنځته شوی ستونزمن وضعیت او په خاصه توگه د هېوادوالو ستونزې، تنگلاسۍ او ناچارۍ نه یوازې په ټوله مانا درک کوي، بلکې حکومتي دستگاه په ټول قوت او امکاناتو ته په پام، هره لحظه د دغو منفي اغېزو د کمولو، د هېوادوالو د نجات، لاسنیوي او مرستې لپاره هلې ځلې کوي.

نوموړي وویل، په همدې موخه یې له اړمنو، بې وزله او ناچاره هېوادوالو سره د مرستې لپاره تېره اونۍ په کابل ښار کې د نانوایانو له لارې د پخې ډوډۍ د وېش بهیر پیل کړ.

د هغه په وینا، دا پروسه یې ځکه لومړی له کابله پیل کړه، چې دلته په ښه توگه نظارت وشي او د دغه ځای تجربې بیا په ولایاتو کې عملي کړي.

ولسمشر غني وویل چې له کابل وروسته په پنځو لویو ښارونو، مزار شریف، جلال اباد، کندوز، کندهار او هرات کې هم دا پروسه پیل شوې او ډېر ژر به ټول هېواد ته وغځول شي.

نوموړي زیاته کړه، چې د دې پروسې د ښه شفافیت لپاره د علماء کرامو، ښاروالانو، د گذر وکیلانو، قومي مشرانو، مدني ټولنې، شخصیتونو او نورو خلکو نظارت او څارنه مهمه ده. د هغه په وینا، دوی باید مستحقین په گوته او له اړوندو مسوولینو سره شریک کړي. ولسمشر له خلکو وغوښتل چې له حکومت سره د دې پروسې په څارنه کې همکاري وکړي.

د یادونې ده چې یو شمیر خلکو په کابل کې پر دې پروسې نیوکې کړې چې گوندې پکې فساد ډېر او مستحقو ته نه ورکول کیږي.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



وایګل چاپ

WAYGAL Printing Co.

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

STAY HOME

+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96

waygalprinting.co@gmail.com

waygalprinting.co

Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



دوشنبه د ۱۳۹۸ د غويي ۱۵مه | د ۲۰۲۰ د مي خلورمه | ۵۳٤مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


دوشنبه ۱۳۹۹/۲/۱٤

د سهار اذان ۰۳:۲۵ د ماښام اذان ۰٦:٤٤

رمضان کریم

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۲ | ۲۹ | ۳۳ | ۲۸ | ۳۳ | ۲۷ |
| ۹ | ۱۵ | ۱٦ | ۱٦ | ۱۸ | ۱۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۲۹ | لمر ختل ۰۵:۰۱ | ماسپښين ۱۱:۵۱ | مازيګر ۰۳:۳۵ | ماښام ۰٦:٤۰ | ماخوستن ۰۸:۱۵

## نړۍ



د کرونا له چټکي پراختيا سره سره؛

## ځينې اروپايي هېوادونه وايي چې د دغه ويروس له کبله لګېدلي بنديزونه به راکم کړي

۵

## شورای امنیت ملی: ۸۵۰ تن زندانیان دیگر طالب نیز از بند رها خواهند شد

شورای امنیت ملی اعلام کرده‌است که ۸۵۰ تن دیگر طالب نیز، از بند رها خواهند شد.

سخنگوی شورای امنیت ملی دیروز در یک نشست خبری در کابل افزود که ۹۸ زندانی طالب آزاد شدند که با این گروه، شمار زندانیانی که از سوی حکومت رها شده‌اند به ٦۵۰ تن رسیده‌است.

جاوید فیصل، سخن‌گوی دفتر شورای امنیت ملی گفت: «بر بنیاد فرمان رئیس‌جمهور، ۹۸ زندانی از زندان پلچرخی (ولایت کابل) رها شدند، تا حال ٦۵۰ طالب رها شده‌اند و ۸۵۰ تن دیگر هم، رها می‌شوند.» او افزود که این زندانیان از بهر تلاش‌های صلح و مهار ویروس کرونا، از زندان رها شده‌اند.


در حالی که بر بنیاد توافق نامه صلح امریکا و طالبان ۵هزار زندانی طالبان در برابر یک هزار زندانی حکومت افغانستان در خلال ده روز مبادله می‌شدند، اما حکومت رهایی این زندانیان را یک روند پیچیده می‌داند.

از سوییِ‌هم، منابع نزدیک به طالبان می‌گویند طالبان گفته‌اند که اگر تمامی ۵ هزار زندانی آنان به‌گونهٔ یک باره‌گی از زندان رها شوند، گفتگو ها میان افغان نیز، زودتر آغاز خواهند شد.

سید اکبر آغا، فرمانده پیشین طالبان دراین باره گفت: «رهایی زندانیان برای اعتماد سازی بسیار مهم است و با رهایی زندانیان اعتماد سازی می‌شود، اما رهایی زندانیان یک میکانیزم درست ندارد. وقتی میکانیزم درست نباشد، انتقادها از دو طرف هم وارد می‌شوند».

رهایی زندانیان طالبان پیش شرطی برای آغاز گفتگو های صلح گفته شده‌است، اما اکنون این روند با انتقاد های روبه‌رو است.

## د مصر پوځ: په سينا ټاپو کې د انصار بيت المقدس ډلې ۱۲٦ جنګيالي وژل شوي دي



د مصر پوځ په تازه اعلاميې کې ويلي چې امنيتي ځواکونو له څو اونيو راهيسې په پيل شويو عملياتو کې د دغه هېواد په سينا ټاپو کې انصار بيت المقدس ډلې ۱۲٦ جنګيالي وژلي دي.

د پوځ په اعلاميه کې راغلي چې امنيتي ځواکونو دغه راز د عملياتو پرمهال د تروريستانو مهم مرکزونه له منځه وړي او په زياته کچه وسلې او مهمات يې هم نيولي دي. د سرچينې په خبره، په دغو عملياتو کې له ترهګريزو ډلو او نورو ورانکارو ګروپونو سره د اړيکو په تور يې ۲٦٦ کسان نيولي هم دي.

د اعلاميې پر بنسټ، په ياده سيمو کې به روان پوځي عمليات نور هم وغځېږي، خو سرچينې د عملياتو د پای د نېټې په اړه يې څه نه دي ويلي.

د مصر سينا ټاپو د دغه هېواد تر ټولو نا امنه سيمه ده، چې د يو شمېر جنګياليو ډلو مرکزونه هم پکې دي او له دې ځايه وخت ناوخته پر ښارونو او امنيتي ځواکونو خونړي بريدونه تنظيموي. مصري چارواکو ويلي چې په دې ټاپو کې تر ډېره د انصار بيت المقدس ډلې جنګيالي فعال دي چې له داعش ډلې سره تر بيعت وروسته يې دا سيمه د سينا ولايت په نوم نومولې ده.

## راپورونه: د سوريې په شمال کې يوځل بيا د امريکايي او روسي ځواکونو ترمنځ پوځي ټکرونه ډېر شوي


د فارس خبري اژانس د راپور له مخې، د سوريې په شمال کې د امريکايي او روسي ځواکونو ترمنځ پوځي ټکرونه زيات شوي دي.

ياد اژانس د سوري رسنيو په حواله ليکلي، چې د دغو کړکېچونو له کبله د سوريې د شمال په الحسکه ښار کې د دواړو لورو د جنګي الوتکو پروازونه ډېر شوي، چې په دې سيمه کې يې د احتمالي جګړې په اړه اندېښنې راپارولي دي. د سرچينې په خبره، د دواړو لورو ترمنځ دغه کړکېچ وروسته له هغې ډېر شو، چې امريکايي پوځيانو هڅه کوله د القامشلي ښارګوټي ته ننوځي، خو روسي پوځيانو يې مخنيوی کړی دی. د ياد اژانس د راپور له مخې، امريکايي ځواکونو يې په غبرګون کې رميلان نفتي ښارګوټي ته د روسي ځواکونو د تلو مخه نيولې ده. په ورته وخت کې سوري رسنيو بيا ويلي چې د دواړو لورو ترمنځ له دغه کړکېچ وروسته جنګي الوتکو هوايي الوتنې ډېرې شوي او په سيمه کې يې د احتمالي جګړې په اړه اندېښنې راپورته کړې دي.

د يادونې ده چې د سوريې شمال سيمې چې د نفتو پراخې او غنې زېرمې لري، تر دې وړاندې هم پکې امريکايي او روسي ځواکونو له يو او بل سره نښتې کړې دي.


## ژوند

## څنګه ښه سليقه ولرو؟



څېړونکي وايي، هغوی چې د خپلې ظاهري څېرې، لباس او ځان خيال نه ساتي، ښکاره ده چې د خپلې دندې، مسووليت او نورو خلکو پروا هم نه لري. که خوشبېږي مو، نو د خپل سر وېښتان بېخي کم کړئ. نامنظم او ګډوډ وېښتان ستاسې پر روان اغېز کوي او ستاسې مخاطب هم ستاسې په ليدو سره تر تأثير لاندې نه راځي، بلکې په منفي ډول له تاسې څخه اغېزمنېږي. پاک او منظم وېښتان د سړي راښکون او جذابيت زياتوي او نور خلک ترې هم تر ډېره ژر متاثره کېږي. د غاښونو پاک ساتل ستاسې موسکا نوره هم قيمتي او ارزښتمنه کوي. خپل غاښونه سهار او ماښام ضرور بورس کړئ. مسواک وهل هم ثواب دی او هم خرما، نو مسواک وهل خپل عادت وګرځوئ. څومره چې ستاسې غاښونه پاک وي، هغومره به تاسې ارام ياست او پر خلکو به مو اغېز ډېر وي. هڅه وکړئ چې داسې څه واغوندی چې يو له بل سره په توافق کې وي. د بېلګې په ډول، له بوټانو سره جرابې واغوندی، خو له څپليو سره يې بيا مه اغوندئ.

## روژه مو له سرطان او شکرې ناروغۍ ژغوري



روغتيايي کارپوهان هم اوس پر دې باور شوي چې که په مياشت کې يوازې پنځه ورځې روژه ونيول شي، نو انسان له سرطان، شکرې او د زړه له ناروغيو ژغوري. د نړۍ مشهور لوبغاړي او ټول هغه کسان چې غواړي وزن او په بدن کې د شته غوړيو اندازه کمه کړي، نو کوښښ کوي چې په اونۍ کې دوې ورځې روژه او يا هم يوازې په اوبو اکتفا وکړي. دغه څه په بدن کې د شته غوړيو د اندازې په کمولو سره د انسان اضافي وزن کموي. د خوړو د اندازې کمولو او يا روژې نيولو سره په بدن کې د انسولين حساسيت چې د شکر اصلي لامل ګڼل کېږي، بهتره کېږي. پر دې سربېره د هاضمې سيستم په بهتره کولو کې هم مهم رول لوبوي. په مختلفو هېوادونو کې له څېړنو وروسته ثابته شوه چې روژه او يا لږ خوراک د زوړوالي پروسه له ځنډ سره مخ کوي او لږ خواړه خوړوونکي او سخت فزيکي کارکوونکي خلک اوږد ژوند لري.


ماستر ډېټ کارټ

د عزيزي بانک ماستر ډېټ کارټ له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتياوو او شرايطو سره سم ډيزاين شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پيسو ته لاسرسی لرلی شئ.

• په ټوله نړۍ کې له 25 ميليون ډېرو سوداګريزو مرکزونو/پلورنځيونو کې د منل کېدو وړتيا لري.

• د دې لپاره چې ژر پيسې تر لاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشينونو ګټه اخيستلی شئ.

1515 www.azizibank.af

عزيزي بانک Azizi Bank